# شریعت

ورځپاڼه

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تأسیس کال ۱۳۷٤ هـ.ش/ دوهم پړاو / ٤٤٥ ګڼه / دوشنبه ۲۷ شوال‌المکرم ۱٤٤٥ هـ.ق / ۱۷ ثور ۱٤۰۳ هـ.ش/ ۰٦ می ۲۰۲٤ میلادي


## اسلامي امارت د بېکارۍ له منځه وړنې پر لارو چارو غور کوي


د اسلامي امارت ویاند مولوی ذبیح‌الله مجاهد لیکلي چې د کار او ټولنیزو چارو د وزارت له لوري د کارګر د نړیوالي ورځې په مناسبت په کابل او کندهار کې د بېکارۍ د له منځه وړلو او د کاري فرصتونو پر رامنځه کولو ناستې وشوې.

ښاغلي مجاهد لیکلي چې دې غونډو کې د اسلامي امارت له لوري خلکو ته د کاري زمینې د برابرولو پر څرنګوالي، د بېکارۍ د عواملو پر له منځه وړلو، د صادراتو پر زیاتولو، دکاریګرو د حقونو پر مراعت او نورو موضوعاتو بحثونه وشول.

مجاهد وړاندې لیکلي چې ددې ناستې په ترځ کې په ټولو ممکنه ځایونو کې د افغان کادرونو پر ګومارنې، تر وسې-وسې د وارداتو پر کمولو، د کورنیو توکو پر باکیفیته کېدو او ګنو هېوادونو ته د صادراتو پر پلان جوړونې خبرې اترې او د اندونو تبادله وشوه.

د ویلو ده چې د کار او ټولنیزو چارو وزارت لا وړاندې ددغو ناستو اړوند چمتووالی نیولی و.

## برای بررسی رویداد بدخشان هیأتی به رهبری قاری فصیح‌الدین گماشته شد




امارت اسلامی به هدف بررسی رویداد بدخشان هیأتی را به رهبری قاری فصیح‌الدین فطرت، لوی درستیز وزارت دفاع ملی گماشته است. مولوی ذبیح‌الله مجاهد، سخنگوی امارت اسلامی با نشر خبرنامه‌ای از توظیف این هیات، خبر داده است.در خبرنامه آمده که کشت کوکنار در کشور ممنوع بوده و از بین بردن مزارع کوکنار در تمام ولایت‌ها ادامه دارد.بربنیاد خبرنامه، امارت اسلامی برای از بین بردن کوکنار گام‌های مستحکم برداشته و هیچ ساحه‌ای از این امر مستثنا نیست. گفته می‌شود که منسوبین مبارزه با مواد مخدر برای از بین بردن کشت‌زارهای کوکنار به ولسوالی درایم بدخشان رفته بودند اما برخی از افراد مغرض بالای تراکتور و خود آنان هجوم برده و با سنگ به‌سوی آنان پرتاب کرده‌اند.در حال حاضر برای بررسی همه‌جانبه این موضوع هیأتی از جانب ریاست‌الوزرا به رهبری لوی درستیز وزارت دفاع ملی گماشته شده است. ص ۳

## عبدالقهار بلخي د اسلامي همکاریو د سازمان په ۱۵مه سرمشریزه کې ګډون وکړ

بهرنیو چارو وزارت د یوې خبرپاڼې په خپرولو سره ویلي، چې د دغه وزارت د نړیوالو سازمانونو مشر او ویاند عبدالقهار بلخي د اسلامي همکاریو د سازمان په رسمي بلنه د یاد سازمان په ۱۵مه سرمشریزه کې ګډون کړی.

وزارت زیاتوي چې عبدالقهار بلخي به په دغه سرمشریزې کې د ګډون تر څنګ د اسلامي همکارۍ سازمان له لوړپوړو چارواکو او د غړو هېوادونو له استازو سره هم لیده کاته وکړي.د یادونې وړ ده چې یاده سرمشریزه ورمه ورځ د ګامبیا په پلازمینه بانجول کې پیل شوه چې دوې ورځې به دوام وکړي.



## یک کارخانه تولید صابون به ارزش ۹ میلیون افغانی در تخار

وزارت صنعت و تجارت می‌گوید، یک کارخانه تولید صابون در ولایت تخار به ارزش ۹ میلیون افغانی افتتاح و به کار آغاز کرده است. بربنیاد معلومات وزارت صنعت و تجارت، کارخانه تولید صابون در شهر تالقان با سرمایه‌گذاری ۹ میلیون افغانی از سوی سکتور خصوصی ایجاد شده است.در خبرنامه آمده که کارخانه یادشده روزانه تا پانزده‌هزار کلچه صابون، تولیدات خواهد داشت.گفته شده که با گشایش این کارخانه زمینه کار برای ۱۰ تن کارگر نیز به‌گونه مستقیم، فراهم شده است.

وزارت صنعت و تجارت افزوده که کارخانه یادشده مواد خام تولید صابون را از کشورهای ایران، اندونیزیا و مالیزیا وارد کرده و صابون‌های لباس‌شویی را در قالب‌های مختلف تولید می‌کند.

این در حالی است که وزارت صنعت و تجارت اخیراً فروش و استفاده از واسلین‌های کالاشویی را در کشور، ممنوع اعلام کرده است.

### نورالدین‌عزیزي:

## د غالیو صادراتو کې دې نړیوال معیارونه پام کې ونیول شي

د صنعت او سوداګرۍ وزیر نورالدین عزیزي په کندهار کې د غالیو نندارتون په وروستۍ ورځ د غالیو له تولیدوونکو غوښتي، چې د خپلو صادراتو د زیاتوالي لپاره باید د نړیوالو بازارونو معیارونه په پام کې ونیسي. ورته مهال په کندهار کې(( د وطن تولید د وطن ویاړ)) په نوم د غالیو درې ورځنی نندارتون تېره ورځ پای ته ورسېد. دا په داسې حال کې ده ۳مخ



## حکومت د اوبو مدیریت ته لومړیتوب ورکوي

د اوبو او انرژۍ وزیر ملا عبداللطیف منصور د کونړ ولایت د کوز کونړ ولسوالۍ د ګمبیري د اوبو لګولو او برېښنا د تولید بند له سیمې لیدنه وکړه. ملا منصور د اوبو د مدیریت او انرژۍ د پراختیا په برخه کې یې د یاد بند ارزښت بنسټیز وباله.

د اوبو او انرژۍ وزیر د یاد بند له سیمې څخه د لیدنې پر مهال وویل، چې د ګمبیري بند جوړول د اسلامي امارت په لومړیتوبو کې شمېرل کېږي.

د یادونې وړ ده، چې د ګمبیري بند تفصیلي ډیزاین چارې بشپړې شوي او د رغنیزو چارو لپاره چمتو دي. د ښاغلي منصور په قول چې د یادې پروژې تړون به ډېر ژر له دوو ودانیزو شرکتونو سره لاسلیک شي.

د یاد بند په جوړېدو سره به ۴۵ میګاواټه برېښنا تولید او شاوخوا دوه دیرش زره هکتاره کرنیزه ځمکه به خړوبه شي.

## پکتیکا کې د یوه چکډېم جوړولو چارې پیل شوې

د پکتیکا د ګومل سیندیزې فرعي حوزې مسوولینو د دغه ولایت په نعمت آباد ولسوالۍ کې د څه باندې ۲ میلیونه افغانیو په لګښت د یوه چک ډېم جوړولو چارو د پیل خبر ورکړی دی.د یادې سیندیزې فرعي حوزې تخنیکي سلاکار انجنیر عیسی محمد مسلم د باختر اژانس خبریال ته ویلي چې د اوبو او انرژۍ وزارت په مالي ملاتړ د ۲ میلیونه ۱۲۹ زره ۱۶۰ افغانیو په لګښت د ماشین کلي چک ډېم د جوړولو چارې د ۴۱. ۴ مترو په اوږدوالي او د ۴ مترو په لوړوالي سره پیل شوې دي. ۳مخ



### سرمقاله

## د چمن د خلکو غوښتنه عادلانه او برحقه ده!

د کوټې په چمن ښار کې له تېرو څه باندې اوو میاشتو راهیسې د لسګونو زرو خلکو له خوا د پاکستان حکومت د هغې پرېکړې پر خلاف یو احتجاجي پرلت روان دی چې پراساس یې له ډیورنډ کرښې تېرېدو لپاره د پاسپورت او ویزې شرط لګول شوی دی.

د پرلت دګډونوالو شمېر که څه هم نه کم اونه دا یوازې د چمن او کوټې د خلکو غوښتنه ده، خو بیاهم د پاکستان سیاسي او نظامي واکمن نه د هغوی دغې جدي غوښتنې ته څه ارزښت ورکوي اونه یې خبره اورې، دا لاڅه چې د تېرې جمعې په ورځ خوېې سرحدي ځواکونو پرهمدغو بې وسلې احتجاج کوونکو وسله وال برید هم وکړ چې په نتیجه کې یې څلور کسان شهیدان، سلګونو ټپیان، لسګونه بندیان اوځو خېموته یې اورونه هم واچول شول.

په دې کې هیڅ شک نشته چې د پاکستان د واکمنو له لوري پر ډیورنډ کرښه د پاسپورت او ویزې شرط لګول د دواړو هېوادونو پر مسلمانو ولسونو خورا سترظلم دی. ځکه د یادې کرښې دواړه خواوته داسې قومونه مېشته دي چې په حقیقت کې د ایکي یو کهاله افراد ګڼل کیږي او د نوک او ورۍ اړیکه او پیوستون سره لري. په دې لړ کې د پاکستان د حکومت هغه پلمه چې وایي په دې اقدام سره یې امنیت ټینګول اصلي موخه ده، هیڅ واقعیت نه لري ځکه هلته د نا امنۍ او تاوتریخوالي اصلي وجه بیا هم خپله د پاکستاني واکمنو هغه ناروا کړنې دي چې د څو ناچیزه ډالرو ترلاسه کولو لپاره یې د پردیو په اشاره ترسره کوي اوپه ترځ کې یې ترلاس لاندې خلکو باندې ظالمانه یرغلونه پیل کړي دي. دغه راز دا هم معلومه ده چې د پاکستان د پردیپالې پالیسۍ له امله د یاد هېواد زرګونه علماء، ځینې سیاسیون او څه قومي او بانفوده شخصیتونه هم سخت ګیله من او پرېشانه دي چې آن له تېرو شلو کلونو راهیسې یې په سلګونو مظاهرې، احتجاجونه او پرلتونه ترسره کړي اولا هم دوام لري. مطلب دا چې پاکستان کې د نا امنیو منځ ته راتلل هیڅکله او په هیڅ صورت پر ډیورنډ کرښه آزادانه تګ راتګ سره تړاو نه لري، ځکه ددغو ولسونو تر منځ د تلو راتلو اړیکې د پېړیو نه، بلکې د زرګونو کلونو مخینه لري، بلکې لا دا هم ویلی شو چې د پاکستان له خوا د لارو دغه شان بندول او بې وسلې حق غوښتونکو سره داډول سخت چلند به یقیناً د خلکو خپګان لا زیات او هلته به تاوتریخوالی ته څو برابره نور هم شدت ورکړي. نوښه به داوي چې د پاکستان نظامي ادارې له مسلمانو عوامو سره پر خپل چلند له سره فکر وکړي.

## د سربو او جستو د پروسس کارخونو پر جوړېدو بحث وشو

د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست شیخ الحدیث شهاب الدین دلاور د پروان ولایت د کرومایټو او د غور د سربو او جستو د قراردادي شرکتونو له رییسانو سره کتلي او د دوی ستونزې یې اورېدلي دي.

په دې کتنه کې یادو رییسانو د خپلو پرمختګونو او دندو په اړه هر اړخیز معلومات وړاندې کړل او د چارو د ښه والي په برخه کې یې خپل وړاندیزونه او ستونزې له سرپرست وزیر سره شریکې کړې.سرپرست وزیر یادو رییسانو ته د کارونو د چټکتیا او روڼتیا په پار لازمې لارښوونې کړې دي. دغه راز په دې ناسته کې کور دننه د سربو، جستو او کرومایټو ډېرو د پروسس د کارخونو پر جوړولو هم بحثونه وشول.

## حدود ۸ هزار خانواده در ۹ ولایت کشور کمک‌های بشردوستانه دریافت کردند

حدود هشت هزار خانواده در نُه ولایت کشور کمک‌های بشردوستانه دریافت کردندبرنامه جهانی غذا در ادامه کمک به نیازمندان در افغانستان برای حدود هشت‌هزار خانواده در نُه ولایت کشور کمک‌های بشردوستانه توزیع کرد.وزارت احیا و انکشاف دهات با نشر خبرنامه‌ای از توزیع کمک‌های بشردوستانه به این تعداد از خانواده‌ها، خبر داده است.بربنیاد خبرنامه‌ها، کمک ص ۳




د سپټمبر یوولسمه پر افغانسان د یرغل لپاره دسیسه وه ۲

د فساد په مخنیوي کې د شریعت تګلاره ۲

افغان اعلانات ۳

# له ایران سره د سوداګریزې راکړې ورکړې د ډېرېدو هڅې

**وحیدالله - هڅاند**

له پاکستان سره په سوداګرۍ کې پر ستونزو سربېره، چې په ټرانزیټ کې یې له خپلو بندرونو افغانستان ته لاسرسی محدود کړی اوس افغانستان د چابهار بندر؛ له ایران سره د راکړې ورکړې سربېره له منځنۍ اسیا سره د وصلېدو لپاره ښه بدیل موندلی دی. هر کال د پاکستان د ټرانزیټي لارو د بیا بیا بندېدو او د افغان سوداګرو د وارداتو او صادراتو په لار کې خنډونه د دې سبب شول، چې اسلامي امارت د ایران د چابهار بندر ته پام واړوي او په دې وروستیو کې هڅه داوه، چې د افغان سوداګرو د نه زیانمنېدو او پر یوې ټرانزیټي لارې د نه اتکا کولو لپاره د ایران د چهابهار بندر ظرفیتونه لوړ کړل شي. تازه د کابل او تهران ترمنځ د سوداګرۍ د پراختیا او چابهار له لارې د ټرانزیټ د پیاوړتیا لپاره هر اړخیز بحث او د نظرونو تبادله شوې او د ټرانزیټ د پیاوړتیا، اړینو اسانتیاوو، د بیو راټیټول، په چابهار کې د ټاکل شویو ځمکو د قطعاتو د بیو نهایي کول، له چابهاره د ټرانزیټي مالونو د امتیازي او اختصاصي لارې ټاکل او د چابهار په لاره کې د سړکونو او اوسپنې پټلۍ د امکاناتو او اسانتیاوو برابرول، د چاه بهار له لارې د ټرانزیټي محدودیتونو له منځه وړل او ټرانزیټي تمځایونه مطرح شوي دي، افغانستان به له دې لارې وتوانېږي په کم وخت او کمه بیه د سوداګرۍ ټرانزیټ ترسره کړي، ځکه د افغانستان لپاره چابهار هم د لګښتونو او هم د وخت له مخې ګټور تمامېږي، چې له دې لارې ټرانزیټ موږ ته په ټیټه بیه تمامېږي، واردات او صادرات به په کم وخت کې ترسره کېږي او ترڅنګ یې موږ کولی شو چې له هندوستان سره هم وصل شو. چابهار بندر د ایران په سویل ختیځ ایالت سیستان–بلوچستان کې پروت دی. دستراتېژیک موقعیت له مخې دغه بندر د عمان خلیج پر غاړه، د هرمُز تنګي ته نږدې او د هند سمندر یوه برخه ده، چې کابو ۱۴ زره هکتاره مساحت او د لویو بېړیو چلېدني او لنګر اچونې ښه وړتیا لري. دغه بندر اوسمهال په اوسط ډول په کال کې د ۲،۵ میلیون ټنه بار پورته کولو او خالي کولو وړتیا لري او د ایران حکومت هڅه کوي، د دغه بندر ظرفیت په کلني ډول ۱۲،۵ میلیون ټنو ته لوړ کړي. د دې ترڅنګ ایران له دغه ښار څخه د افغانستان تر پولې پورې د سړکونو او رېل کرښو جوړونې په ډګر کې هم ډېر کار کړی او همداراز د سیمې نور هېوادونه هم هڅوي، څو په دغه برخه کې پانګونه وکړي. په چابهار بندر کې درې داسې هېوادونه راټول دي، چې له پاکستان سره په یو نه یو ډول ستونزې لري، چې یو له هغو افغانستان دی، چې له تېرو څو لسیزو راهیسې له نړۍ سره د خپلې سوداګرۍ لپاره پر پاکستان متکي و، خو پاکستان بیا د افغانستان له دغې مجبورۍ څخه د سیاسي فشار د آلې په توګه کار اخیست، په بل اړخ کې، د هند او پاکستان دودیز رقابت او دښمني ده، چې له امله یې پاکستان تل هڅه کړې، د هند او افغانستان ترمنځ خنډونه او ستونزې رامنځ ته کړي، ځکه اسلام آباد نه غواړي له افغانستان سره د ډیورنډ د لاینحل قضیې له امله، د کابل او ډهلي ایتلاف په خپلو سترګو وویني. لنډه دا چې یاد بندر د افغانانو لپاره ښه زیری دی، ځکه افغان سوداګر له دې لارې ډېرې ګټې ترلاسه کوي، له ټولو مهمه یې دا چې افغان سوداګر پر پاکستان له تکیې خلاصوي او هغه مالونه چې کراچۍ یا تورخم بندر کې د پاکستاني چارواکو له لوري وخت نا وخت په یوه او بله پلمه بندېدل او د تګ راتګ اجازه به نه ورکول کېده، دغه مهمه ستونزه به اوس چابهار حلوي. بله ګټه یې دا ده چې افغان سوداګر د چابهار له لارې د اروپا، منځنۍ اسیا، چین او هند مارکېټونو ته لاسرسی مومي. پاکستان هر وخت له خپلې خاورې افغان مالونو ته هند ته د تېرېدو په مخکې خنډونه جوړوي، خو چابهار کولی شي دغه ستونزه په اسانۍ حل کړي. چابهار بندر د افغانستان په شمول مرکزي اسیایي هېوادونه ته ارزښت لري او په وچه کې راګیر هېوادونه باید د مختلفو هېوادونو له لارې بندرونو ته لار پیدا کړي یوازې په پاکستان باندې تکیه ونه کړي او پر بدیلو لارو کار وشي، افغانستان چې د نړۍ په کچه په وچه کې راګیر دی، د سوداګرۍ تکیه یې تر ډېره پر پاکستان وه، خو پاکستان د ښه ګاونډیتوب له امله تر ډېره له افغان سوداګرو سره هېڅ سم چلند نه دی کړی او وخت ناوخت یې د دوی پر وړاندې ستونزې رامنځته کړې دي، همدا لامل دی، چې د ایران چابهار له لارې سوداګرۍ ته د پراختیا ورکولو هڅې زیاتې شوې او څو میاشتې وړاندې د اسلامي امارت لوړ پوړي پلاوي له ایراني لوري سره یو لړ هوکړه لیکونه لاسلیک کړل او له ایران سره به سوداګریزه راکړه ورکړه لس میلیارد ډالرو ته ورسوي.

# رسانه ها مهمترین عوامل ارتباط و روشنگری فکری جامعه

**احمد ضربی**

سوم می روز جهانی مطبوعات همه ساله در جهان به خصوص در افغانستان به هدف افزایش سطح اگاهی جامعه ، مسوولیت پزیری ، چالشها وفرصت ها ی کاری گرامیداشت می شود

از روز جهانی مطبوعات در حالی گرامیداشت به عمل می اید که در قرن حاضر جهان به یک دهکده کوچک تبدیل شده وبا اندکترین زمان رویداد ها وحوادث همگانی می شود که بدون شک این وی‌ژگی رسانه ومطبوعات نه تنها ارزش واهمیت اطلاع رسانی وکار در رسانه ومطبوعات را تبارزداده ،بل مسوولیت پزیری این قشر را دو چندان نموده است که باید روزنامه نگاران دست اندرکاران رسانه ها وقلم بدستان از ارزش ها دینی ، کرامت انسانی وهنجار های نهادینه شده اجتماع پاسداری کنند وبرای تحقق این شاخص ها ، تلاشهای مضاعف نمایند، زیرا هرزمانی که ارزش ها وباور ها در یک جامعه مصون بماند ، وفاق وهمبستگی اجتماعی تضمین خواهد شد.

ازینرومقام ها در امارت اسلامی از فعالیت های رسانه ها حمایت کرده وتلاش دارند تا سهولت های بیشتر را در بخش اطلاع رسانی به خبرنگاران ودست اندرکاران رسانه ها فراهم نمایند ، همچنان تاکید دارند امارت اسلامی از زمان پیروزی تا اکنون به همکاری با رسانه ها ، حمایت از مطبوعات وایجاد سهولت ها برای اطلاع رسانی متعهد بوده واین تلاش ها ادامه دارد.

هرچند از مشکلات اقتصادیی که فرا راه خبر نگاران وجود دارد نمی شود چشم پوشی کرد ، اما وزارت اطلاعات وفرهنگ اقداماتی را برای ایجاد سهولت ها برای رسانه ها رویدست دارد وبه این باور است که رسانه ها سبب ارتقاع سطح اگاهی وتعالی فرهنگ اصیل اسلامی وانسانی ، همچنان دانش عمومی می شود.

مسلما رسانه ها بی کمان یکی از مهمترین عوامل توسعه ، فرهنگ واز نشانه های پویایی وتحرک هر جامعه به حساب می رود.




# د سپټمبر یوولسمه پر افغانستان د یرغل لپاره دسیسه وه

**ابوالیاس جهادوال - څلورمه برخه**

### د اکتوبر اوومه او د یرغل پیل

امریکا په نړیواله کچه له پوره لابي ګرۍ او عامه اذهانو چمتووالي وروسته بالاخره د ۲۰۰۱ کال د اکتوبر په اوومه د افغانستان په وخت د شپې نهه بجې چې په واشنګټن کې ماسپښین مهال وو، د افغانستان پر خاوره هوایي او د کروز توغندیو بریدونه پیل کړل چې دارسماً پر دغه هېواد د یرغل پیل په معنې و او له مخې یې په همغه لومړۍ شپه ۳۱ مرکزونه په نښه شول چې ډېر تمرکز یې پر ثابتو مرکزونو لکه هوایي ډګرونو، د ملامحمد عمر مجاهد کور، پوځي اډو، رادار سیستم، ډیپوګانو او حتی د ملي راډیو ټلویزیون مرکزي ستیشن وو.

دغه بریدونه داسې مهال تر سره کېدل چې د امریکا ولسمشر جورج ډبلیو بوش یې په ژوندۍ بڼه د سي ان ان ټلوېزیون له لارې ننداره کوله. نوموړي که څه هم په لومړي ځل خپله دغه جګړه د صلیبي جګړو لړۍ ونوموله، خو وروسته یې د عامه اذهانو آرامولو لپاره دغه خبره بېرته واخیسته او هغې ته یې د «ترهګرۍ ضد جګړې» نوم ورکړ.

دغه مهال د اسلامي امارت مشرتابه د یو فرمان له لارې ټولو مسوولانو ته سپارښتنه وکړه چې قربانۍ ته پر چمتووالي سربېره، په جوماتونو کې د قرانکریم په ختمونو سره د کفري ځواکونو د ماتې لپاره د الله حضور ته دعا او زارۍ وکړي.

ملا محمد عمر مجاهد دغه مهال خپلو ملګرو ته وویل: « زه د موقف، شتمنۍ او خپلې کورنۍ په اړه چې په خطر کې ده، فکر نه‌کوم. په هر حال قربانۍ ته چمتویم، نه غواړم چې د نامسلمان ملګری شم؛ هغه نامسلمان چې زما د دین او باورونو مخالف دی او زه تیار یم چې هر څه پرېږدم او یوازې پر اسلام او خپل افغاني مېړانې باور ولرم.»

نوموړي همداراز وویل: « موږ له داسې ورځو سره مخ یوو که د خدای اراده وه د اسلام او مسلمانانو لپاره به بریالیتوب راوړي، نه به موږ تسلیم شو او نه به چاته سر ټیټ کړو د بریا لمر د افق پر مخ په ځرګندېدو دی.»

که څه هم په لومړیو کې امریکایانو یوازې په هوایي بمباریو او توغندیزو بریدونو سره خپل یرغل پیل کړ، خو وروسته یې پلي ځواکونه هم د هېواد په ځینو برخو کې ځای پر ځای شول، special activities division او CIA د امریکا هغه لومړني استخباراتي ځواکونه وو، چې د افغانستان په خاوره کې پښه کېښوده او وروسته بیا د م۱۵ په نامه نور ځواکونه هم ورسره یو ځای شول. دغو ځواکونو له شمالي ټلوالې سره په ګډه د اسلامي امارت پر ضد ګډ عملیات پر مخ بېول. که څه هم په لومړیو کې امریکایي ځواکونه په دغه ماموریت کې یوازې وو، خو وروسته بیا برېتانوي او استرالیایي ځواکونو هم ورسره ملګري شول.

د یرغل په لومړیو کې امریکایي بم غورځوونکو الوتکو د افغان هوایي مدافعې ځواک له وېرې عموماً د شپې له‌خوا او له ډېرې لوړې ارتفاع بمونه غورځول، خو د څو ورځو په تیرېدو او هوایي مدافعې سیستم له منځه تلو سره دغه بمبارد بیا د ورځې له خوا او له ټیټې ارتفاع سره هم ترسره کېده.

د اکتوبر په اوولسمه د الفا ګروپ په نوم د امریکایي ځواکونو یوه بله ډله د شمالي ټلوالي له قوماندان عطاءمحمد نور سره د یوځای کېدو په نیت د هوا له لارې بلخ ته ورسېده او دا د امریکایي پوځ لومړنی جنګي ځواک وو، چې د سي آی اې اجنټانو وروسته یې د افغانستان پر خاوره پښه کېښوده او ورپسې ډي ای ۵۵۵ په نوم د دغو ځواکونو یوه بله ډله د تاجیکستان له لارې د چورلکو پر مټ پنجشېر ته راورسېده. په داسې حال کې چې تر وړاندې یوازې د سي آی اې استخباراتي افسران امریکایي چورلکو ته د کورډیناتو ورکولو او استخباراتي معلوماتو ترلاسه کولو په موخه د هېواد په یو شمېر سیمو کې میشت شوي وو او د شمالي ټلوالې له قوماندانانو سره یې ګډ کار کاوه.

همدارنګه حامد کرزی له هغو لومړیو کسانو څخه و، چې د اکتوبر په وروستیو کې یې په کوټې ښار کې د سي آی اې له افسر «کریک فوګل» سره تر کتنې وروسته د هېواد په سویل کې د اسلامي امارت پر ضد د خلکو راپارولو او جګړه‌ییزې جبهې پرانیستلو په موخه کندهار ولایت ته لاړ، خو کله چې له لوړ امنیتي ګواښ سره مخ شو، نو د ټلیفون له لارې یې د سي آی اې له افسر ګریګ فوګل څخه مرسته وغوښته، چې هغه بیا د یوې چورلکې پر مټ نوموړی وژغوره او د پاکستان د سند آیالت جیکب آباد اډې ته ولېږداوو. کرزي هغه مهال له همغه ځایه له رسنیو په مرکو کې داسې ځرګندوله چې ګواکې په افغانستان کې دننه دي.

د اکتوبر په شلمه امریکایي ځواکونو په کندهار کې د اسلامي امارت مشرتابه مقام او د ملامحمد عمر مجاهد پر کور چاپه ووهله. په دغو عملیاتو کې د ډیلټا فورس په نوم کابو سلو تنو امریکایي ځانګړو ځواکونو برخه اخیستې وه چې د څېرنیز خبریال سیمور هرش په وینا د مجاهدینو د تاکتیکي برید په پایله کې د تلفاتو په لیدو سره تېښته ته اړ شول او هېڅ کومه لاسته راوړنه یې نه‌درلوده. وروسته د اسلامي امارت چارواکو د امریکایي چورلکې مات ټایرونه او د ځانګړو ځواکونو تومانچه هم خبریالانو ته وروښوده چې د تیښتې پر مهال ورڅخه پاتې وو.

نور بیا ...

# د فساد په مخنیوي کې د شریعت تګلاره

**حسان مجاهد**

په شریعت کې په یوه معمولي خبره ټینګار شوی وي او د انسان په فکر له ډېر کم شي مسلمانان منع شوي وي، په سطحي توګه څوک حیران شي، چې له دې کاره ولې مسلمانان منع شوي دي؛ خو د زمانې په تیرېدو سره به جوته شي چې په حقیقت کې شریعت د کم شي په منعه کولو د ډېرو فتنو دروازې تړلې دي. د مثال په توګه: اسلام ددې لپاره چې مسلمانه ټولنه له هر ډول فحاشیو، بدبختیو او بداخلاقیو څخه پاکه وي؛ موږ مسلمانان یې د فساد او فتنې له پنځو لارو منع کړي یو.

۱_ سترګې: ژباړه: مؤمنانو ته ووایه چې تاسو پردیو ښځو ته له ناروا نظره سترګې کښته کړئ او ښځو ته ووایه چې تاسو سړیو ته له ناروا نظره سترګې کښته کړئ! [سورة نور ۳۰_۳۱]

۲_ غوږونه: ښځې دې په ځمکه داسې قدم نه وهي چې د دوی پټ زینت ښکاره شي او خلک یې آواز واوري. [سورة نور ۳۰]

۳_ پوزه: رسول الله فرمایي: کومه ښځه چې خوشبویي استعمال کړي، بیا په خلکو تېرېږي او هغوی یې خوشبویي محسوسه کړي؛ نو دا ښځه زناکاره ده. [نسایي رقم الحدیث ۵۱٤۱]

٤_ ژبه: ښځې دې نارینه وو ته په ځواب ورکولو کې نرمه او خوږه لهجه نه کاروي، ترڅو د هغه کسانو په زړه کې ناروا تمه پیدا شي چې د زړونو ناروغي لري. [الاحزاب ۳۲]

٥_ عقل: رسول الله فرمایي: یوه ښځه دې خپل خاوند ته د بلې ښځې داسې صفت نه بیانوي، چې ګواکې دی هغې ښځې ته ګوري(او بیا یې په فکر او خیال کې د هغې ښځې رنګ او صورت ګرځي راګرځي)[بخاري شریف رقم ٥٢٤٠]

که موږ پورته نصوصو ته وګورو، نو دې حقیقت ته رسېږو، چې ربښتیا هم شریعت د هر ډول فساد په مخنیوي کې ډېره غوره تګلاره ټاکلې ده او هغه معمولي شی چې موږ ترې سوونه کاله وړاندې منعه شوي وو؛ نن یې په ترسره کولو ډېرو فتنو او فسادونو ته لاره خلاصېږي. که موږ د(ادخلوا في السلم کافة)په غوښتنه له سره تر نوکه په اسلام کې پوره داخل شو، هله به نېکمرغه او کامیابه یو. إن شاء الله تعالی

# د امریکا سیاست د یهودي لابي په ګورت کې

**عبدالستار سعید**

د امریکا په بېلابېلو پوهنتونونو کې پر غزه د یهودي تهاجم او وحشت پر خلاف مظاهرې روانې دي، خو د امریکا حکومت د دې پر ځای چې د خپلې دعوې سره سم د خلکو د بیان د آزادۍ حق ته درناوی وکړي، په ډېر تشدد مظاهره کوونکي نیسي او په احتجاجي تجمعاتو بریدونه کوي. امریکا چې د دموکراسۍ او بیان د آزادۍ دعوه لري، پخوا کله هم نه دي لیدل شوي چې د مظاهره کوونکو په وړاندې یې دومره توند چلند کړی وي. ها خوا د همدې هېواد د بهرنیو چارو وزیر اسرائیلو ته سفر کړی، تر څو بنیامین نتنیاهو په رفح له برید څخه منصرف کړي، خو راپورونه وایي چې نتنیاهو د بلینکن وړاندیز پر مخ وروېشتلی او د رد ځواب یې ورکړی. دلته پوښتنه دا ده چې د یهودي صهیونیستانو په استازیتوب بنیامین نتنیاهو په کوم اساس دومره جرئت موندلی چې د خپل ولي نعمت «امریکا» په وړاندې موقف نیسي، که څه هم د رسنیز تظاهر تر کچې وي، چې دا وړ چلند د امریکا په نړیوال پرستیژ ډېرې پوښتنې راولاړوي. د دې ټول بحث تر شا حقیقت دا دی چې د امریکا سیاست د یهودي لابیګرانو په ګورت کې دی. لابي چې په غربي سیاست خصوصاً امریکا کې د سیاسي تصامیمو د طراحۍ له مهمو عواملو ګڼل کېږي، هغه پلان شوي عمل ته وایي چې یوه خاصه ډله د سیاسي تبلیغاتي فشار، پیسو یا نورو امتیازاتو په واسطه حکومتي دستګاه تر فشار لاندې نیسي او خاص عمل یا موقف ګېرۍ ته یې هڅوي.

په اسانه ټکو لابي د رشوت او اعمال فشار پر مختللی شکل دی، لابیګرې ډلې د حکومت مقننه، اجرائیه یا قضائیه قواوو ته پیسې ورکوي او یا یې تر فشار لاندې نیسي چې په مقابل کې هغوی د لابي کوونکو په ګټه پرېکړې کوي. په امریکا کې ډېرې پرېکړې د ولسي اکثریت د رأیې پر اساس نه ، بلکې د لابي کوونکو ګروپونو په خوښه کېږي. مثلاً په امریکا کې ۹۰ سلنه عام خلک له کلونو راهیسې د وسلو د خرڅلاو او استعمال محدودیت غواړي خو د وسله لرونکو ټولنه چې یوه له سترو لابیګرو ډلو څخه ده هر ځل مقننه قوې ته په رشوت ورکولو سره د وسلو د قانون تعدیل ځنډوي. په هر حال په امریکا کې یوه له مهمو لابیګرو ګروپونو یهودي لابي ده، چې خورا زوړ تاریخ لري. د یهودو لابي چې د امریکا د اقتصاد، بانکونو او میډیا ډېرې برخې په واک کې لري د امریکایي حکومت په تصمیمونو ژور اغېز لري، چې دلته یې یوازې د فلسطین اړوند ځینې بېلګې ذکر کوو.

۱– د نړۍ یهودانو له ډېر پخوا څخه په فلسطین کې د یهودي دولت د جوړولو خوبونه لیدل، د لومړي نړیوال جنګ پر مهال انګلستان هڅه کوله، چې امریکا په خپله پلوې په جګړه کې داخله کړي. انګرېزان چې د فلسطین په ګاونډ کې مصر یې تر واک لاندې و او عرب یې د عثماني ترکانو خلاف پاڅولي وو د فلسطین راتلونکي احتمالي واکمن بلل کېدل. له یهودو سره یې پټه معامله وکړه، هغه دا چې یهودي صهیوني تحریک به په امریکا کې د خپلې یهودي لابۍ د فشار په توسط امریکایي حکومت د انګرېز په ګټه په جګړه کې ګډېدو ته هڅوي او په مقابل کې به انګلیستان په فلسطین کې یهودو ته د دولت جوړولو لپاره ځمکه ورکوي. همداسې وشول په امریکا کې د یهودۍ لابۍ د فشار له امله امریکایي حکومت انګلیس په ګټه جګړې ته داخل شو او وروسته انګرېزانو د بالفور داعلامیې په صدور سره په فلسطین کې د یهودو دولت اعلان کړ.

۲– ټرمپ چې کله په امریکا کې ټاکنو ته ودرېد او د پیاوړې کاندیدې هیلري کلنټن په نسبت یې د کمپاین لپاره لږ منابع درلودل، نو یې له یهودي لابۍ سره غوږ وجنګاوه، د یهودو لابۍ په دې وعده د ټرمپ ملاتړ پیل کړ چې د بریا په صورت کې به ټرمپ بیت المقدس د اسرائیلو دپلازمینې په حیث پېژني او د امریکا سفارت به ورلېږدوي. همداسې وشول، د یهودو لابۍ چې د فیسبوک غوندې اکثره عامه رسنۍ یې په واک کې وې او د رسنیو امپراطور او نیوز کارپوریشن مالک (مارداک) یې له قوي ملاتړ و ټرمپ یې د تبلیغاتي ملاتړ په زور ولسمشرۍ ته ورساوه او په مقابل کې ټرمپ هم نه یوازې د امریکا سفارت بیت المقدس ته نقل کړ، بلکه د اسرائیلو د منطقوي دښمنانو د ځپلو لپاره یې هم قاطع اقدامات وکړل.

۳– دریمه بېلګه یې په غزه کې د اسرائیلي روان وحشت په اړه د سپینې ماڼۍ د تضرع سیاست دی. په داسې حال کې چې اسرائیلو د انسانیت ټولې پولې ماتې کړې او د وحشت بوږنوونکې نمونې یې پنځولې، تر دې چې د عام امریکایي انسان وجدان یې هم لړزولی، خو په وړاندې امریکایي چارواکي تر حده د یهودي لابۍ په منتر کې ګېر دي چې د حقوق بشر داعیه او دعوه یې د نړیوال د خندا توکی ګرځېدلی.

لوړو حقائقو ته په پام سره باید پوه شو چې که له یوې خوا اسرائیل د امریکا زائیده او منطقوي نانځکه ده بالمقابل دامریکا د حکومت اصلي قیادت هم تر ډېره د یهودو تر ګورت لاندې دی.

## زمینه سازی بهتر اشتغال ...

فعلا کار یک اندازه کم اســت، مقصد شکر گزاری می کنیم، نه به او صورتی که ما میخواهیم نمیشه، بچه ها مکتب می خوانند و تقریباً در یک ماه ۵ الی ۶ هزار افغانی بدست می آورم که کرایه خانه و امرار معیشت فامیل ام را می کنم.»

او می افزاید:» با این سن و سال زحمت می کشم ولی دست خود را پیش کسی دراز نمی کنم، از مزد زحمت خود نان میخورم.

وی از مسوولین خواستار افزایش کار و مهیا ساختن زمینه کار برای مردم است.

وحیدالله ۳۷ ساله باشنده حوزه هفتم کابل می باشد، او نیز با کراچی دست داشته که مصروف کار و بار در شهر کابل است، شرح حال خود را چنین حکایت کرده، می گوید:» ۱۲ سال است در شهر کابل مصروف کار و بار هستم، سابق در یک شرکت ساختمانی بودم و فعلاً در کراچی یک تایره بحساب جوالی گری در شهر کابل کار می کنم، وضعیت کار و بار، یک روز ۲۰۰ الی ۳۰۰ افغانی میشه و یک روز ۲۰ افغانی دستلاف هم نمیشه ولی باز هم خوش هستیم.

جواد ۱۳ ساله باشنده ولایت جلال آباد که مصروف کار شاقه در شهر کابل است شرح حال خود را چنین بیان میدارد:» یک دو سال میشه آهن گهنه و بوتل را اکثراً از نوجوانان، مردان و زنان می خریم و هم جمع می کنیم، کار و بار ما خوب است، گذاره فامیل ما می شود.» وی که مانند سایر نوجوانان شوق مکتب دارد، اما بنابر وضعیت بد اقتصادی خانواده اش نمی تواند مسیر کسب علم و دانش را بپیماید.

او از مســوولین امور متفاوت تر از دیگر کارگران می خواهد تا زمینه ی خواندن مکتب را برایش مساعدسازند.

چالش بیکاری در کشور به یک معضل بزرگ تبدیل شده و روز به روز در حال افزایش می باشد، اما مسوولین مربوطه در پیوند به چگونگی و زمینه سازی کار و اشتغال زایی برای شهروندان با در نظرداشت ایمنی و صحت شغلی در هماهنگی با شرکای کاری شان رای زنی دارند.

در همین حال کار شاقه اطفال نیز در این میان قابل بحث است سمیع الله ابراهیمی سخنگوی وزارت کار و امور اجتماعی گفت:» کار شاقه اطفال هم مغایر ارزش‌های اسلامی و هم بر بنیاد محتوای قوانین کار نادرست است، بنابر این برای جلوگیری از کار شاقه اطفال در کتگوری های گوناگــون تلاش‌های ما ادامه دارد، مانند جمع آوری گداها که نیز جز همین تلاش‌ها اســت و ریاســت تفتیش این وزارت طی ماه های اخیر در تمام ادارات وضعیت کار را بررســی نموده و همچنان در خصوص بهبود وضعیت کار رهنمودی نیز از سوی آن وزارت ساخته شده است.»

آقای ابراهیمی همچنان افزود:» بدون تردید که در این زمینه چالش‌هایی هم است و فرصت‌هایی خوبی هم وجود دارد، بر بنیاد دریافت‌های وزارت کار و امور اجتماعی «کار کم و مزد کم» یک نگرانی پنداشته می‌شود که این وزارت برای پایان دادن به همه چالش های مرتبط به آن با تمام توان تلاش می نماید و سازمان بین المللی کار (ILO) همکار همیشگی این وزارت بوده و با هماهنگی بنیادی برای زدودن مسایل مرتبط همواره تلاش های مشترک صورت می گیرد.

نامبرده اذعان داشت:» فرستادن نیروی بشری به خارج از افغانستان جزو دیگری از استراتیژی های بلند مدت این اداره پنداشته می‌شود و به عنوان یک اولویت در دستور کار این وزارت قرار دارد که برای نهادینه شدن این پروسه با برخی از کشور ها صحبت شده و عملی شدن این روند الزامی و حتمی است. وی تصریح کرد که:» برای بهبود وضعیت در کشور و فراهم آوری سهولت‌ها، اخذ تعهدات برای از بین بردن بیکاری، وزارت کار و امور اجتماعی ســازوکار کنفرانس ملی کار را تقریباً نهایی ساخته و رهبری این وزارت همواره تلاش دارد که با برگزاری این کنفرانس به چالش‌ها در این خصوص به گونهٔ بنیادی رسیدگی صورت گیرد. این درحالیست که سازمان بین المللی کار در آخریــن گزارش خود اعلام کرده که بیش از ۷۰ درصد از نیروی کار جهان بر اثر تغیرات اقلیمی با خطرات بالقوه ســلامتی رو برو هستند. آمار سازمان یاد شده نشان میدهد که تجدید نظر در سیاست های مربوط به سلامت و ایمنی حرفه ای برای مقابله با تهدیدات نو ظهور ناشی از تغیرات اقلیمی، امر بســیار ضروری است. قابل یاد آوریست که جلسه سه جانبه نیز در پیوند به دریافت راه های حل به مشــکلات بیکاری در کشــور، از سوی وزارت کار و امور اجتماعی و شــرکای کاری شان با حضور مقامات امارت اسلامی و موسسات بین المللی تدویر و بحث هــای لازم صورت گرفته و تصامیم لازم در خصوص کاریابی و اشــتغال زایی مبتنی بر ایمنی و صحت شغلی اتخاذ گردید.

**قیس قادری**

## مولوي اميرخان متقي: بشري او اقتصادي مسايل دې په سياست پورې نه تړل کيږي

د بهرنیــو چارو وزیر مولــوي امیرخان متقي د روغتیا نړیوال ســازمان او یونیســف ګډ لوړپوړي پلاوي ســره په کتنه کې په افغانســتان کې د پولیو پر ضد پرهڅو، د افغانســتان او ســیمې ترمنــځ پــر روغتیایي اړیکــو او نورو موضوعاتــو خبرې کــړې دي. په یاده کتنــه کې د بهرنیو چــارو وزیر مولــوي امیرخان متقــي ویلي چې روغتیــا، زده کړې، اقتصاد او بشــري مرســتو مســایل دې په سیاســت پورې نه تړل کیږي. مولوي امیرخان متقــي ویلي، چــې د پولیو پر ضــد مبــارزه د افغان حکومــت په لومړیتــوب کې ده. مولــوي امیرخــان متقــي ټینګکار کــړی، چــې ملګــري ملتونــه بایــد د روغتیــا نړیــوال ســازمان کــې د افغانســتان اســتازی ومنــي، تــر څــو نړیــوال د افغانســتان د روغتیــا پــه برخــه کــې ریښــتینی انځــور ترلاســه کــړي. بــل پلــو، د روغتیــا نړیــوال ســازمان اســتازې ډاکټــرې حنــان بلخــي ویلــي، پر داســې یوې طرحــې کار کــوي، چــې د افغانســتان او پاکســتان حکومتونــو ترمنځ د روغتیــا ډیالــوګ تــه زمینــه برابــره کــړي. آغلــې بلخــي سپارښــتنه کــړې چې د دواړو هېوادونــو د بهرنیــو چــارو وزیــران دې د دې ډیالــوګ مشــري وکــړي. د حنان بلخي په قول د بیل ګېټس بنســټ، سعودي عربستان، قطر او متحده عربي اماراتو حکومتونو د افغانســتان د روغتیایي چارو لپاره ۲۴ میلیونه ډالر ځانګړي کړي دي.

## بررسی ارتکاب احتمالی ...

این کشــور در افغانستان را تایید کرده و از سوی وزارت دفاع این کشور دستوری مبنی بر ارایه‌ی اسنادی که این ادعا را اثبات بسازد دریافت کرده بود.

## سرازیر شدن سیلاب ...

مرغاب در ولایت غور حدود ۱۰۰ خانه مسکونی زیر آب رفته است. آنان می‌افزایند که در همه جای ولسوالی مرغاب سیل ســرازیر شده است؛ اما قریه «جنداک» بیش‌تر خسارات دیده است.

## بیشترین مهاجرین...

وزارت گفت : بیشــترین مهاجرین را در ســطح جهان افغان ها تشــکیل میدهند، امارت اســلامی و وزارت امور مهاجرین تلاش مینماید تا برای مردم افغانســتان به خصوص مهاجرین افغان راه های بیشــتری را در جهت حل مشــکلات آنان فراهم سازد. وی افزود، افغانستان چهار دهه جنگ را سپری نموده است و امارت اسلامی در صدد تقویت و ارتباط خوب و بهتر با تمام کشــور ها و موسسات میباشد. روفی نماینده موسسه تحقیقاتی و انکشافی ابن ســینا اهداف آن موسسه را تشریح نموده از وزارت امور مهاجرین و امارت اســلامی خواستار همکاری های بیشتر در زمینه بازسازی و فراهم سازی اشــتغال برای مهاجرین شد. وی بر همکاری وزارت با آن نهاد در جهت فراهم ســازی زمینه های کاری برای افغان ها در برون از کشور تاکید نمود.

## پنجشېرکې کان ...

قومنداني زياته کړې: د دې پېښې له کبله څلور کسان سوځېدلي دي، چې د عامې روغتيا رياست د روغتيايي ډلې له لورې مرکزي روغتون ته وړل شوي دي.

## استقبال از تأسیس فابریکه...

شــیخ الحدیث شــهاب الدین دلاور سرپرســت وزارت معادن و پترولیم با روســای کمپنی های پروســس و ذوب آهن میهن ســتیل، خان ستیل و خان انجنیری ستیل در دفتر کارش ملاقات نمودند. در این ملاقات روئســای کمپنی های متذکره نخست در مورد فعالیت ها، کارکردها و تولیدات فابریکات شــان در بخش پروسس و ذوب آهن معلومات داده، خواهان ســرمایه گذاری روی معادن آهن افغانســتان بمنظور ایجاد و تاســیس یک فابریکه بزرگ پروســس آهن با معیارها و ســتندردهای بین المللی در داخل افغانســتان گردیده تا در زمینه اشتغال و رشــد اقتصادی کشور نیز سهم داشته باشند. سرپرســت وزارت معــادن و پترولیم نیز از فعالیت ها و کارکردهای شــان در بخــش ذوب آهن و تولیــدات آن که باعث رشــد اقتصادی و ایجــاد کار برای مردم بوده اســت ستایش بعمل آورده، از علاقمندی و تصمیم شــان جهت تاسیس فابریکه بزرگ پروسس آهن در داخل کشور اســتقبال نمود و در قسمت سرمایه گذاری بالای معادن آهن طبق قوانین و مقرره های معدنکاری وعده همکاری ســپردند.

## حدود هشت هزار خانواده ...

های یادشــده به خانواده‌های نیازمنــد در ولایت‌های لوگر، کابــل، پکتیکا، هلمند، کندهــار، غزنی، لغمان، جوزجان و نیمروز، توزیع شــده اســت. در میان مســتفید شــدگان، خانواده‌های آسیب دیــده از حــوادث طبیعــی نیــز بوده‌اند. کمک‌های توزیع‌شــده به خانواده‌های نیازمند در کشــور شــامل موادخوراکی و پــول نقد بوده اســت. روند توزیع این کمک‌ها همه‌روزه از ســوی برنامه جهانی غذا و وزارت احیاء و انکاف دهات در ولایت‌های مختلف کشــور ادامه دارد.

هفته گذشــته نیز برای هزاران خانواده در ولایت‌های مختلف کمک‌های بشردوستانه توزیع شد.

## پکتیکا کې د یوه چکډېم...

دغه چک ډېم د ۲۴ زره ۲۴۱ متر مکعب اوبو د ذخیره کولو وړتیا لري.

د یادونې وړ ده، چې د اسلامي امارت په راتګ سره په یاد ولایت کې د چک ډېمونو او د اوبو بندونو جوړولو په برخه کې پوره پاملرنه شوې ده.

## د غالیو صادراتو کې دې...

چې تر دې وړاندې مســئولینو ویلي و، چې افغانستان په ۱۴۰۲ کال کې ۳۱ هېوادونو ته د تر ۱۷ میلیونه زیاتو افغانیو په ارزښــت غالۍ صادرې کړې دي.

## اسلامي امارت له اسرائيلو...

لوړ پوړو پلاوو پر راتګ بحث وشو. سرپرست سفیر ووویل: موږ د افغانستان په وروستیو پرمختګونو خوښ یو او د ترکیې او افغانســتان د اړیکــو د پراختیا په اړه باید په ګډه هڅه وشــي. نوموړي زیاته کړه چې په څو ورځو کې به د ترکېش شرکت پروازونه بېرته کابل ته پیل شي. یاده ناسته کې همداشــان د افغانستان او ترکیې تاریخي او ښو اړیکو ته په کتو د دواړو اولســونو د تمو د ترلاسه کولو په پار پر ګډو هڅو ټینګار وشو.

## برای بررسی رویداد...

مولوی شمس‌الدین شریعتی، رئیس لوی نظارت و تعقیب فرامین و احکام، ملا عبدالحق، معین مبارزه با مواد مخدر وزارت امور داخله، ملا رحمت‌الله نجیب، معاون ریاست عمومی استخبارات و مولوی عبدالمومن، رییس شورای علمای بدخشان از اعضای هیأت یادشده گفته شده‌اند.

# افغان اعلانات

### دعوت به داوطلبی

نام پروژه: { رنگ مالی تعمیر مرکزی و پاک کاری سقف کچی ان } می باشد. د افغانســتان برشنا شرکت از تمام داوطلبان واجد شــرایط دعوت می نماید تا در پروســه داوطلبی ( { رنگ مالی تعمیر مرکزی و پاک کاری سقف کچی ان } دارای کود نمبر ساختمان-۱٤٤٥-داوطلبی بازملی ۰۲۹ اشــتراک نموده و نقل شرطنامه را به شکل سافت در حافظه یا فلش دسک از مدیریت قرارداد های ساختمان بدســت آورده ،ویا از سایت dabs.af به طور انلاین به دســت اورده آفر های خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه و طبق قانون و طرزالعمل تدارکات طور سر بسته از تاریخ نشر اعلان الی ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر شنبه تاریخ ۱۲/جوزا۱٤۰۳ به ریاست تهیه و تدارکات دافغانستان برشنا شرکت واقع دهمزنگ شهر کابل ارایه نماینــد آفر های ناوقت رســیده و انترنتی قابل پزیرش نمیباشد.

۱-تضمین آفر: مبلغ ۷۵۰۰۰ هفتــاد پنج هزار افغانی میباشد.

۲-جلسه قبل از افرگشایی: روز شنبه ساعت ۱۰:۰۰ قبل ازظهر مورخ ۵/جوزا۱٤۰۳/برگزار میگردد.

۳- آفر گشــایی: جلسه آفر گشــایی روز شنبه ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر مورخ ۱۲/جوزا/۱٤۰۳ برگزار میگردد.

٤-آدرس و محل آفر گشایی: منزل ششم اطاق کنفرانس ریاست تهیه و تدارکات.

٥- آدرس اداره: د افغاستان برشنا شرکت واقع دهمزنگ ناحیه سوم شهر کابل.

برای معلومات بیشتر به شماره ذیل تماس گیرید.

شماره تماس: ۰۲۰۲٥۱۳٦۷۷

آدرس الکترونیکی:

Nazirullah.hashimi@dabs.af

abdullah.afghanzoy@dabs.af

+++++++

### اعلان داوطلبی

ریاست تدارکات وزارت دفاع ملی از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت مینماید تا در پروسه داوطلبی تهیه و تدارک (٥) قلم پرزه جات وسایط هاموی مودل (۱۱٥۲) زرهی ضــرورت قطعات و جزوتامهای اردوی اســلامی ملی از بابت سال ۱٤۰۳.

نــوع قرارداد: بالمقطــع روش(داوطلــبی بــاز داخلــی). شــماره داوطلــبی: وزارت دفــاع ملــی -۱٤۰۳-اجنــاس-۰٦۸-۲۲٤۰۰ اشــتراک نموده و آفر های سربســته خویش را مطابق شرایط شرطنامه، طبق قانــون و طرزالعمل تدارکات بعد از نشــر اعلان الی (۲۱) روز تقویمی ارائــه نمایند. آدرس ومدت اخذ شرطنامه: ریاســت تدارکات واقع خواجه بغرا مقیم گارد سابقه از تاریخ نشر اعلان الی ۲۱ یوم تقویمی به روز های رسمی از شروع رسمیات الی ختم رسمیات بشکل کاپی/ سافت (CD) اخذ و همچنان داوطلبان میتوانند شرطنامه را از ویب سایت وزارت دفاع ملی www.mod.gov.af دانلود نمایند. شماره تماس (۰۲۰۲٦۱۲۰۸٦).

تضمین آفر: مبلغ (۷۰۰,۰۰۰) افغانی بشــکل گرانتی بانک اخذ میگردد.

نوت: تضمین آفر در نسخه اصلی تسلیم داده شود، کاپی وسکن آن قابل قبول نیست. صرف تضمین بانکی قابل تطبیق میباشد.

ضمانت بانکی باید مدت ۲۸ روز بیشتر از مدت اعتبار آفر باشد، یعنی مدت ۱۱۸ روز بعد از تاریخ بازگشایی آفرها قابل اعتبار می باشد.

ضرب العجل تســلیمی آفرها و آفرگشائی: از تاریخ نشر اعلان الی ۲۱ یوم بعد، قبل از ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر آفر های دیر رسیده و انترنتی قابل پذیرش نمی باشد.

محل آفرگشائی: ریاست تدارکات واقع خواجه بغرا مقیم گارد سابقه بلاک آفرگشائی.

نوت: ازداوطلبان محترم خواهشــمندیم که بعد از اخذ شرطنامه تماماً موادات آن را مطالعه نموده و هنگام تسلیمی آفر اسناد تقاضا شده مندرج شرطنامه را تسلیم نمایند.

+++++

### اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم (شرکت وحید فضل الله شگیوال لمیتد) یک عراده موتر پلیــت ۷۷٥٤۳-۲ ش کابل نوع تیوتا کرولا جاپانی خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای (عبدالبصیر) فرزند (عبدالحق) بفروش رسانیده است. بناء اشخاص ادارات و موسساتیکه با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۹۰٦

+++++

### اطلاعیه کندز

ریاست شــاروالی خان آباد محصول عواید سرای پولی مندوی مالبازار شــهر خان آباد را برای مدت یک ســال عقد قرار مینماید آنعده اشخاص و افراد واجد شرایط که خواهش اشتراک در مجلس داوطلبی آنرا داشته باشند، از نشر اعلان الی مدت ۲۱ یوم درخواستهای خویش را به ریاست شاروالی خان آباد ســپرده و خود شان به روز داوطلبی در مقر ریاست شاروالی خان آباد حاضر شوند، شرطنامه را میتوانند ملاحظه نماید و تامینات نقدا اخذ میگردد. ٦٦

+++++

### اعلان داوطلبی

ریاست تدارکات وزارت دفاع ملی از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت مینماید تا در پروسه داوطلبی تهیه و تدارک ۱۹۱ قلم پرزه جات مختلف النوع وسایط ثقیله انجنیری ضرورت قول اردو (۲۰۷) الفاروق از بابت ســال مالی ۱٤۰۳.

نوع قرارداد: بالمقطع روش (داوطلبی باز داخلی). شماره داوطلبی: وزارت دفاع ملی -۱٤۰۳-اجناس- ۰۰۲۷- ۲۲٤۰۲ اشتراک نموده و آفر های سربسته خویش را مطابق شرایط شرطنامه، طبق قانون و طرزالعمل تدارکات بعد از نشر اعلان الی (۲۱) روز تقویمی ارائه نمایند.

آدرس ومدت اخذ شرطنامه: ریاســت تــدارکات واقع خواجه بغرا مقیم گارد سابقه از تاریخ نشر اعلان الی ۲۱ یوم تقویمی به روز های رســمی از شروع رسمیات الی ختم رسمیات بشکل کاپی/سافت (CD) اخذ و همچنان داوطلبان میتوانند شــرطنامه را از ویب ســایت وزارت دفاع ملی www.mod.gov.af دانلود نمایند. شــماره تماس (۰۲۰۲٦۱۲۰۸٦).

تضمین آفر: مبلغ (٤۰۰,۰۰۰) افغانی بشــکل گرانتی بانک اخذ میگردد.

نوت: تضمین آفر در نسخه اصلی تسلیم داده شود، کاپی وسکن آن قابل قبول نیست. صرف تضمین بانکی قابل تطبیق میباشد. ضمانت بانکی باید مدت ۲۸ روز بیشتر از مدت اعتبار آفر باشــد، یعنی مــدت ۱۱۸ روز بعد از تاریخ بازگشایی آفرها قابل اعتبار می باشد. ضرب العجل تسلیمی آفرها و آفرگشائی: از تاریخ نشر اعلان الی ۲۱ یوم بعد، قبل از ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر آفر های دیر رسیده و انترنتی قابل پذیرش نمی باشد.

محل آفرگشائی: ریاست تدارکات واقع خواجه بغرا مقیم گارد سابقه بلاک آفرگشائی.

نوت: ازداوطلبان محترم خواهشــمندیم که بعد از اخذ شرطنامه تماماً موادات آن را مطالعه نموده و هنگام تسلیمی آفر اسناد تقاضا شده مندرج شرطنامه را تسلیم نمایند.

+++++++

### اعلان داوطلبی برای تخلیه چاهای سپتیک توسط تانکرهای ۱۵۰۰۰ لیتره در سال ۱۴۰۳

اداره شفاخانه ۱۰۲ بســتر خیر خانه ازتمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تادر پروسه داوطلبی تخلیه چاهای سپتیک توسط تانکرهای ۱۵۰۰۰ لیتره درسال ۱٤۰۳ دارای نمبر تشخیصیه (MOPH/GDCM/HRP/KHH/NCB-1403/SO2) اشتراک نموده ونقل چاپ شــده شرطنامه را ازمدیریت تدارکات شفاخانه ۱۰۲ بستر خیر خانه بدست اورده افرهای خویشرا مطابق شرایط مندرج شرط نامه و طبق قانون و طرز العمل تدارکات طور ســر بســته به روزافرگشایی روزشنبه مورخ ۱٤۰۳/۰۲/٥ ساعت ۱۰ بجه قبل از ظهر به شعبه تدارکات شفاخانه واقع حصه دو خیر خانه ارایه نمایید افر های ناوقت رسیده و انترنیتی قابل پزیرش نمی باشد تظمین افر به صورت نقدی ویا بانک گرنتی از یک بانک با اعتبار ضمیمه شرط نامه به روز افر کشای به ترتیب ذیل ارایه بدارید.

۱-تضمیــن موترهــای بــوذر مبلــغ(۸۰۰۰۰) هشتادهزارافغانی. ۹۱۹

+++++

### اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم (شرکت بهبود نوید لمیتد) یک عراده موتر پلیــت ٥۷۱٥۹ -۲ ش کابل نوع تیوتا کرولا غرفه دار جاپانی خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای (تاج گل) فرزند (علی گل) بفروش رسانیده است. بناء اشــخاص ادارات و موســساتیکه با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۸۹٤

++++++

### اطلاعیه فروش امتیاز دواخانه

محترم محبوب الله بشــر دوســت فرزند محمد ایوب ولدیت محمد نســیم دارنده تذکره نمبــر ( ۹٤٤۷۸- ۰۱۰۰- ۱٤۰۰ ) مســکونه اصلی ولایت تخار مالک امتیاز دواخانه نوی مجیب واقع ناحیه سوم ولایت تخار طی درخواســتی به مقام محترم اداره ملی غــذا ادویه افغانستان عارض و خواهان فروش امتیاز دواخانه خویش بالای محترم محمد سروری فرزند محمد سرور ولدیت صفر محمد دارنده تذکره شــماره ( ۲٥۰۱۸- ۰٦۰۰- ۱۳۹۹ ) مســکونه اصلی ولایت تخار گردیده اســت. اشخاص موسسات ودوایر دولتی در مورد ادعای داشته باشند از تاریخ نشــر اعلان الی مدت ۱۰ روز به آدرس اداره ملی غذا وادویه افغانستان واقع ده افغانان تعمیر قبلی وزارت اطلاعات و فرهنگ مراجعه نمایند. ۹۲٤

+++++

### اطلاعیه تغییر اسم دواخانه

محترم محمــد مجاهد نعمانی فرزنــد مولوی محمد نعمان ابوطیب ولدیت ملا خیر محمد دارنده تذکره نمبر ( ٥۹۷٤٦- ۰٦۰۱- ۱٤۰۲ ) مســکونه اصلی ولایت جوزجان مالک امتیاز دواخانه مخدوم زاده واقع ولسوالی بلخ ولایت بلخ عنوانی این اداره عارض و خواهان تغییر اسم دواخانه خویش از مخدوم زاده به اسم کمیل سهیل حسینی گردیده است. اشخاص موسسات ودوایر دولتی در مورد ادعای داشته باشند از تاریخ نشر اعلان الی مدت سه روز به آدرس اداره ملی غذا وادویه افغانستان واقع ده افغانان تعمیر قبلی وزارت اطلاعات و فرهنگ مراجعه نمایند. ۹۰٤

+++++

### اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم (شرکت ولک بابا لمیتد) یک عراده موتر پلیــت ۹۲۷۸٥-۲ ش کابل نــوع تیوتا کرولای غرفه دار جاپانی خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای (شیرین آقا) فرزند (اسلام الدین) بفروش رسانیده است. بناء اشخاص ادارات و موسساتیکه با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۹۱۲

+++++

### اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم شرکت ستار مرزی لمتید یک عراده موتر پلیت ۹۹۲۹۷-۲ ش کابل نوع تیوتا کرولا سالون جاپانی خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای زیارمل فرزند عبدالخلیل بفروش رســانیده است. بناء اشخاص ادارات و موسساتیکه با عراده فوق کدام معامله داشــته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۹۲۳

# Shariat Daily

**Shariat**
**Published by**
**Islamic Emirate of Afghanistan**
**M. Ebrahim Nabil ، Director of Gov.dailies**
0782080666
**Chief Editor : Farooq Ghaljai/** 0778635852
**Email: info@shariatdaily.com**
**WWW.shariatdaily.com** ویب سایت:

**شریعت**
د دولتي ورځپاڼو رئیس:
انجنیر عُزیر بریالی / ۰۷۱۱۹۰۰۴۰۰
مسؤل مدیر: فاروق غلجی/ ۰۷۷۸۶۳۵۸۵۲
مسئول سکرتر: خالد افغان/ ۰۷۷۳۰۶۲۸۳۲
د شریعت بریښنا لیک: info@shariatdaily.com
پته: د بهرنیو چارو وزارت ته مخامخ - د اطلاعاتو او کلتور وزارت نوي ودانۍ
**شماره توزیع و شکایات:** ۰۲۰۲۳۱۲۵۰۹ / ۰۷۶۶۰۴۴۹۶۶ / ۰۷۳۱۶۰۶۰۷۳

Monday 06 May 2024 / Established: 1995 / 2nd Season / Vol: 445


# اسلامي امارت له اسرائیلو سره د ترکیې د سوداګرۍ پرېکړې ستایي



د بهرنیو چارو ویاند مرستیال حافظ ضیا احمد تکل لیکلي چې دبهرنیو چارو سرپرست وزیر مولوي امیر خان متقي د افغانستان لپاره د ترکیې جمهوري دولت له سرپرست سفیر جنګ اونال سره کتلي دي.ښاغلي متقي له اونال سره په کتنه کې له اسرائیلو سره د ترکیې د سوداګریزې راکړې ورکړې د لغوه کېدو دریځ ستایلی دی. دغه راز په دې ناسته کې پر دوه اړخیزو اړیکو، افغانستان کې د وروستیو مثبتو اقداماتو، د ګټو هېوادونو د سیاسي او اقتصادي ۳مخ

## رویدادهای خارجی

# اسرائیلو کې د نتانیاهو پر ضد لاریونونو بیاځلې زور اخیستی



ورېمه ورځ زرګونه اسرائیلیان د لومړي وزیر نتانیاهو پر ضد لویو لاریونو ته راوتي وو او د نوموړي د استعفا غوښتنه یې کوله.وروستیو خپاره شویو انځورونو کې لیدل کیږي، چې دغه لاریونونه ورځ تر بلې د پراخېدو په حال کې دي. لاریون کوونکي لومړي وزیر نتانیاهو د حماس او نورو فلسطیني جهادي ډلو پر وړاندې مبارزه او دغه راز د یادو ډلو له بند څخه د خپلو عزیزانو په راخوشې کولو کې پاتې بولي او د نتانیاهو په ګډون د ګڼو نورو چارواکو د ژر استعفا غوښتنه کوي.دعاموا سرایلیانو تر څنګ د دغه رژیم سیاسي اپوزیسیون هم د نتانیاهو پر وړاندې ولاړ دي او غزه کې د روانې جګړې پر مهال د ماتې له امله یې ملامتوي.

# برازیل کې د طبیعي پېښو له امله څه باندې ۵۰ کسان مړه شوي



د برازیل په جنوب کې د سېلابونو او ځمکې ښوېدنې له امله د مړو شمېر ۵۶ ته ورسېد. چارواکي وايي، ۶۷ نور کسان تري تم دي. د دغه هېواد د ملکي دفاع ادارې پرون وویل، چې په ریو ګراندي دو سول ایالت کې د اوبو سطحه لوړه شوې او د اوبو بندونو ته یې خطر پېښ کړی دی. د دغه ایالت کې چارواکي هڅه کوي، خلک له زیانګالو سیمو، خوندي ځایونو ته تخلیه کړي.

# بررسی ارتکاب احتمالی جنایات سربازان بریتانیایی در افغانستان به تعویق می‌افتد

رسانه‌های بریتانیایی گزارش داده‌اند که روند رسیدگی به پرونده جنایات جنگی احتمالی سربازان این کشور در افغانستان ممکن تا سال ۲۰۲۵ به تعویق بیفتد و این در حالی است که مدیر کل امور نظامیان سابق در دولت بریتانیا طی یکی از جلسات استماعیه بررسی این پرونده را به عهده داشت با مشکلاتی در روند تحقیق مواجه شده است.گاردین با استناد به این نامه گزارش داده است که حتی اگر وزارت دفاع بریتانیا در جریان تحقیق روی این پرونده، کارمندان حقوقی اضافی استخدام کند و نرم‌افزار تخصصی



خریداری کند، ارائه اسناد تا اکتوبر یا نوامبر سال جاری ممکن نیست؛ بخاطر همین، جلسات استماعیه این وزارت ممکن است تا مارچ ۲۰۲۵ به تعویق بیفتد.این در حالی است که جانی مرسر، مدیر کل امور نظامیان سابق در دولت بریتانیا در اواخر ماه مارچ سال جاری وقوع جنایت جنگی از سوی سربازان وزارت دفاع این کشور، وقوع جنایت جنگی از سوی سربازان بریتانیا در افغانستان را تایید کرده بود.روزنامه‌ی گاردین در گزارشی که به تازه‌گی منتشر کرده از احتمال به تعویق افتادن بررسی ارتکاب جنایات جنگی از سوی سربازان بریتانیایی در افغانستان خبر داده و افروده که جلسات استماعیه وزارت دفاع این کشور که ص ۳

**توجه !**
**ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را به بی‌حرمتی بگذارید!**

# استقبال از تاسیس فابریکه بزرگ پروسس آهن در داخل کشور



سرپرست وزارت معادن و پترولیم در دیدار با رؤسای کمپنی های پروسس و ذوب آهن میهن ستیل، خان ستیل و خان انجنیری ستیل جهت تأسیس فابریکه بزرگ پروسس آهن در داخل کشور استقبال می کنم.
دفتر مطبوعاتی وزارت معادن و پترولیم امروز با نشر این خبر گفته است، ص ۳

**سخنگوی وزارت کار و امور اجتماعی:**

# زمینه سازی بهتر اشتغال زایی در اولویت کاری ما قرار دارد

**شریعت :** افغانستان بنابر جنگ های طولانی، عدم ثبات دایمی و تاثیرات منفی آن در بخش های مختلف، سبب شد تا مردم با هزاران نوع مشکلات مواجه شوند که شماری کثیری شان از ناحیه بیکاری های پیهم رنج می برند و در پی لقمه نانی برای امرار معیشت خود و خانواده خویش، راه های پر خم و پیچ را در داخل و خارج از کشور طی می نمایند اما از اینکه کار شان دوامدار نیست، همیشه با یاس و نا امیدی به زنده گی شان ادامه می دهند.
**محمد رضا باشنده ولایت پروان که با ۶۵ سال سن و ریش سفید کراچی چهار تایره بدست دارد و تنها نان آور فامیل ۴ نفره است، می گوید:»** مدت ۱۰ سال می شود که در همین کسب و کار مصروف هستم، سابق کار و بار یک کمی خوب بود ص ۳

# بیشترین مهاجرین را در سطح جهان افغان ها تشکیل می دهند



معین وزارت امور مهاجرین و عودت کنندگان در یک نشست آنلاین گفت بیشترین مهاجرین را در سطح جهان افغان ها تشکیل میدهند.دفتر مطبوعاتی وزارت امور مهاجرین و عودت کنندگان دیروز با نشر این خبر گفته است، نشست مجازی وزارت امور مهاجرین و عودت کننده گان با موسسه تحقیقاتی و انکشافی ابن سینا برگزارشد.
هدف از برگزاری این نشست مجازی ایجاد تیم کاری جهت طرح زمینه های اشتغال از طریق مهاجرت های منظم و هماهنگ و تطبیق برنامه های وزارت با نهاد یاد شده بود. مولوی عبدالرحمن راشد، معین مسلکی ص ۳

# پنجشېر کې کان کیندونکي ژوبل شوي



د پنجشېر ولایت په یوه کان کې د ګاز دېبې چاودنه شوې د پنجشېر امنیتي چارواکو ویلي، چې د دې ولایت د لومړي حصې ولسوالی د سفید چهر په اړوند سیمه کې پر کان کېندونکیو د ګاز دېبې چاودنه شوې ده. د پنجشېر ولایت امنیه ۳مخ

# سپین بولدک کې ۳ کسان د غلا په تور نیول شوي

دګمرکونو د ساتنې او د ځانګړو عملیاتو ځواکونو د کندهار سپین بولدک ولسوالۍ ګمرک کې درې تنه د غلا په تړاو نیولي دي. امنیتي ځواکونو د معلوماتو له مخې، یاد کسان تېره شپه د امنیتي ځواکونو له لورې د سپین بولدک له سوداګریز ګمرک څخه د سوداګریزو توکو د غلا پر مهال لاس په لاس نیول شوي. د معلوماتو له مخې نیول شویو کسانو په خپل جرم اعتراف کړی او د لا زیاتو پلټنو په موخه د یادې ولسوالۍ امنیه قومندانۍ ته سپارل شوي دي. د یادونې ده، چې د امنیتي ځواکونو له لورې د جنايي مجرمینو په وړاندې پرېکنده اقدامات د ولسونو له پراخ هرکلي سره مخ دي او له قضايي ادارو څخه د اسلامي شریعت د بشپړ عملي کېدلو غوښتنه کوي.

# سرازیر شدن سیلاب در مرغاب غور



سیلاب در غور حدود ۱۰۰ خانه در ولسوالی مرغاب زیر آب رفته است . جاری شدن سیلاب و خسارات آن در ولسوالی مرغاب ولایت غور را نشان می‌دهد. باشندگان این ولسوالی می‌گویند که در پی سیلاب‌های سنگین سرازیر شده در قریه «جنداک» ص ۳

# کاپیسا کې ۱۳ کلنه بدي هواره شوه

د کاپیسا په کوهبند ولسوالۍ کې د دوو کورنیو ترمنځ ۱۳ کلنه دښمني د دغه ولایت د امنیتي قوماندان، د عالمانو شورا غړي او د قومونو او قبایلو چارو ریاست د مسوولینو په منځګړیتوب حل شوه.د یاد ولایت د امنیې قوماندان محمد عثمان ترابي باختر آژانس ته وویل چې د کوهبند ولسوالۍ د تربت په سیمه کې د دوو کورنیو ترمنځ رامنځته شوې ۱۳ کلنه دښمني په ترڅ کې له دواړو لورو څخه ۴ تنه وژل شوي وو چې د قومي مخورو او مشرانو او د قومونو او قبایلو چارو ریاست مسوولینو په منځګړیتوب د یادو کورنیو ترمنځ روغه وشوه.د یادونې وړ ده، چې د اسلامي امارت په راتګ سره د هېواد په کوټ کوټ کې لسګونه د قومونو او کورنیو ترمنځ رامنځته شوې دښمنۍ ختمې شوې دي.